# بسم الله الرحمن الرحیم

# دنرسنګ اساسات کتاب 110 پوښتني اوجوابونه

اخراج ترتیب اوډیزاین: ( سمیع الله متقي samiullah muthqi)

**ډالی:** لومړي ټولومحترمو استاذانوته  دوهم ټولودنرسنګ محصلینواوشایقینوته !

بااحترام

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

س1: نرس تعریف کړی ؟

1ج: یوه لاتینی کلمه ده چې له(nutrix) څخه اخستل شوي اودتغذیی معنی ورکوي. اوپه 1861 م کال یوی انګلیسي ښځې دفلورانس نایتنګل په نامه په پښو ودراوه .

2 س: روغتیا یا health تعریف کړي ؟

2ج: روغتیادفزیکي روحی دماغی اجتماعی حالتونو بشپړروغوالی ته روغتیاوائي یواځې دناروغیونشتوالی روغتیانه ده

3 س: حیاتی علامی څودي نومونه یې واخلی ؟

3 ج:حیاتی علامی دري دي .نبض .دتودوخي درجه .اوتنفس.

4 س: تبه پرڅوډوله ده نومونه یې واخلی ؟

4 ج: تبه پرڅلور ډوله ده .ثابته دوام داره .متصله کاذبه .متناوبه .راګرځیدونکي.

5 س: ترمامتر پرڅوډوله دی ؟

5 ج: ترمامتر پرپنځه ډوله دی .ششیي .برقی .یوځل کاریدونکی . infrared ترمامتر.ډیجیټل.

6 س: دبدن دتودوخی داندازه کولو دځایونوو نومونه واخلی ؟

6 ج: تندی .غوږ .دخولی جوف .مری .ابطی ناحیه .مهبل .رکتوم .دورون انسی وحشی برخه .

7 س: دتبی اعراض اوعلایم ولیکی ؟

7 ج: دزړه دضربان زیاتوالی .لړزه .دتنفس چټکوالی .تنده .دخولی وچوالی .ناراحتی .دبدن درد .عمومی ستړیا.

8 س: دنبض پرتیزوالی مؤثرفکتورونه کوم دي ؟

8 ج: عمر جنس تمرین درمل وینه بهیدنه دوضعیت بدلیدل.

9 س: دنبض داندازه کولوناحیی ولیکئ؟

9 ج: صدغی ثباتی دښنګل ناحیه دلاس بند دفخذ ناحیه دزنګون شاته دښنګری شاته دپښي شاته پورتنی برخه.

10 س: فشار تعریف کړي ؟

10 ج: دشریانی وینی فشار دهغه فشار څخه عبارت دی چی په شریانونوکي دوینی دجریان په واسطه منځته راځي.

11 س: نبض تعریف کړی ؟

11 ج: دشریانونو په دننه کي دوینی دموجی حرکت څخه عبارت دی.

12 س: په کاهل شخص کي دنبض اندازه څومره ده ؟

12 ج: په کاهل شخص کی دنبض اندازه اوسط حالت 80/min دی.

13 س: فشار څومرحلی یاصفحی لري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

13 س: فشار دوه مرحلې لري .اول systolic مرحله ده چې لوړفشار معلوموي طبعي اندازه يې 140 mmhg — 120 ده .دوهم مرحله diastolic ده چې کښته فشار معلوموي اوطبعي اندازه يې 90 mmhg — 70 ده .

14 س: تنفس تعريف کړي ؟

14 ج: د اکسيجن ګاز اخستل اودکاربن ډای اکسايد خارجول عبارت له تنفس څخه دی. اوپه کاهل شخص کي يې اندازه 20 — 12 /min ده .

15 س: پرتنفس مؤثرفکتورونه وليکئ ؟

15 ج: تمرينات فشارونه محيط دارتفاع لوړ والی ناروغی.

16 س: تغذيه تعريف کړئ ؟

16 ج: ديو اورګانيزم اوغذا ترمنځ له ټولو متقابلو اعمالوڅخه عبارت دي.

17 س: عمر پرڅوګروپونو ويشل شوي دي ؟

17 ج: پر دري ګروپونو ويشل شوي دي .ځواني .منځنی ځواني .بوډاوالی.

18 س: پرته له کوم فشار څخه څومره ادرار په مثانه کي ځايږي ؟

18 ج: 1000 — 700 ملي ليتره .

19س : په 24 ساعته کي څومره مايعات اخستل کيږي ؟

19 ج: 2500 ملي ليتره اخستل کيږي.

20 س: درمل څه شي دي ؟

20 ج: هغه ماده چي دناروغيوپه تشخيص ، مراقبت ،مخنيوی اودرملنه کي ترينه استفاده کيږي.

21 س: د درملو په تطبيق کي دپنځه قانون وبناياست ؟

21 ج: صحيح درمل صحيح دوز صحيح ناروغ صحيح طريقه صحيح وخت.

23 س: د درملو لاربنود څوبرخي لري ؟

23 ج: بايد اوه برخی ولري.

24 س: درمل په څوطريقوسره تطبيق کيدای شي ؟

24 ج: درمل په څلورو طريقو سره تطبيق کيداي شي. دخولې دلاري .دژبې لاندي . buccal administration دا هغه طريقه ده چي جامد درمل په خوله کي د مخاطي غشاء لاندی ايښودل کيږي .زرقي طريقه ده.

25 س: زرقيات په څوطريقو سره کيداي شي ؟

25 ج: زرقيات په څلور ډوله ترسره کيدای شي .(sc) sbcutaneous دپوستکي لاندي .(im) intra muscular په عضله کی . antra venous(IV) په رګ کی .(ID) antra demarl په پوستکي کي زرقيات.

26 س: ددرملو په موضوعی تطبيق کي کومې طريقي شاملې دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

26 ج: ددرملويه موضوعی تطبيق کی اوه طريقی مطالعه کيږي. اول . انشاقی طريقه ده چی دتنفس په واسطه ددرملوجذب صورت نيسی. دوهم . په سترګو کی د دوا تطبيق دی. دريم . پرپوستکی باندي د دواتطبيق دی. څلورم . د درملوتطبيق په پوزه کي دی. پنځم . د درملومهبلی تطبيق دی چی دشاف ،جيلی ،اوياکريم په شکل وي. شپږم . د درملو مقعدي تطبيق دی. اووم . د درملو تطبيق د وينځلوپه شکل دی يا Irrigation .

27 س: سرنج څوبرخي لري ؟

27 ج: سرنج دري برخي لري. هغه برخه چي دستني سره وصليږي د Tib په نامه اوبهرنی برخه يي د Barrrl په نامه ده . منځنی برخه چي په سرکي يی ربړقرار لري د plunger په نامه سره ياديږي.

28 س: دڅودولو سرنجونو نومونه واخلئ ؟

28 ج: هايپودرميک سرنج(Hypodermic Syr) توبرکولين سرنج (Tuberculin Syr) انسولين سرنج (Insulin Syr).

29 س: يوستنه څوبرخي لري ؟

29 ج: يوه ستنه دري اساسی برخي لري. لومړي . هغه برخه ده چي دسرنج دTib سره وصليږي. دوهم . يی منځنی برخه ده چي د Shift په نوم ياديږي. دريم . هغه برخه ده چي په مايل شکل قطع شوي وي يادستني څوکه.

30 س: دسايز اوګيج له مخي دستنو اندازه وښاياست ؟

30 ج: سايزونه يي د ¼inch- 5inch پوري وي . او ګيجونه يي د 28 — 14 پوري دي اومعکوسه رابطه سره لري يعني تر ټولوکوچنی ګيج 28 اوترټولو لوی ګيج 14 دي.

31 س: په پوستکي کی دننه د زرق(ID) لپاره د درمل اندازه ، دسرنج اوستنی اندازه وليکئ ؟

31 ج: درمل بايد (0.5 ML) وي سرنج بايد 1ML وي دستنی ګيج 25-27 اوږدوالی 3/8 Inch - ½ وي .

32 س: دپوستکي لاندي دزرقياتو (SC) اندازه دسرنج اندازه دستنی ګيج اواندازه وليکئ ؟

32 ج: درمل (0.5 ML) اوسرنج 3ML دستنی خواص د(ID) په شکل دي. 45- 20 زاويي سره .

33 س: په عضله (IM) کي دزرقياتو اندازه وليکئ ؟

33 ج: په غټو عضلاتو کي د4ML په ماشومانو اوډنګرواشخاصوکي 2 ML -1 اوپه Deltoid عضله کي (0.5 ML) زرق کولاي شو.

34 س: عضلي زرقيات په کومو ځايونو کي ترسره کيداي شي ؟

34 ج: په څلورو عضلاتو کي صورت نيسی. اول . vastus lateralis. دوهم . ventro gluteal. دريم . Droso Gluteal. څلورم . Deltoid عضله ده .

35 س: انتقادي تفکر تعريف کړي ؟

35 ج: دپيښي دحل په هکله دنرس دمنطقي قضاوت څخه عبارت دي.

36 س: دانتقادي تفکرساحي څودي وئي ليکئ ؟

36 ج: فکري عناصر څلور دي. اول . فکري عناصر . دوهم . وړتياوي قابليتونه . دريم . مؤثر ابعاد . څلورم عقلي ستندرونه .

37 س: دنرسنګ پروسه تعريف کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

37 ج: دنرسنګ پروسه یوه توانایي ده چي پریوه میتودولوژیک بنیاد ولاړه ده چي  ددي په واسطه مشکلات حلیږي.

38 س: علمی میتود تعریف کړي ؟

38 ج: دمشکلاتو دحل یو سیستماتیکه پروسه ده چي په کښي دمشکلاتو دحل اووه برخي شاملي دي. لکه دمشکل مشخص کول ،دمعلوماتو راټولول ......

39 س: داسنادو ثبت کول Documention تعریف کړي ؟

39 ج: داسنادو ثبت کول یوقانوني عمل دی چي دپیښي په وخت اودفعالیتونو داجراکولوپه وخت کي لیکل کیږي اوساتل کیږي.

40 س: تجرید یا Isolation تعریف کړي ؟

40 ج: دځینوخلکو ترمنځ دبیلوالي اویا دیوشي یاشخص لري ساتل دبل شخص څخه عبارت دتجرید څخه دي.چی په روغتونونوکي دناروغیو دمخنیوي لپاره کارول کیږي.

41 س: د تجرید یا Isolation ډلونه ولیکئ ؟

41 ج: دتجرید CDC دناروغیو دکنټرول مرکزونه .په ناروغیو پوري مختص تجرید .نړیوال احتیاطي تدبیرونه .دبدن دموادو څخه تجرید.

42 س: دتجرید اوانتان دایره واضح کړي ؟

42 ج : د انتان سایکل یا دایره شپږمرحلی لري. اول .اورګانیزم ، بکتریا ،ویروس .دوهم .منابع ، انسان ، حیوان ، خواړه ، اوبه .دریم .دخروج محل .څلورم دخپریدو طریقه .پنځم .د داخلیدو لار .شپږم .مساعد میزبان.

43 س: تنفس تعریف کړي ؟

43 ج : تنفس کول په سږو کي دهوا دوتلو اونوتلو څخه عبارت ده .

44 س: تهویه تعریف کړي ؟

44 ج : دا یوه اصطلاح ده چي په سږو کي دهوا دحرکت لپاره اطلاق کیږي.

45 س: په اکسیجنیشن باندي مؤثر فکتورونه ولیکئ ؟

45 ج: عمر.محیطی فکتورونه .دناروغیو پروسه .

46 س: دتنفس معمول متغیر صفحات په کوموحالتونو کي رامنځته کیږي ؟

46 ج: دسږو بندیدونکي ناروغی .دسږو محدودونکي ناروغی .دډیفیوژن نقصانونه .دزړه عدم کفایه .کمخوني.

47 س: دزړه عدم کفایه تعریف کړي ؟

47 ج: دهغه حالت څخه عبارت ده چي زړه نه شي کولای چي دبدن دمیتابولیک اړتیاپه خاطرکافی وینه انساجوته پمپ کړي.

48 س: دتنفسی اسانتیا وو لپاره باید څه وکړو ؟

48 ج: دهوایي لارو ساتنه .هایدریشن .دسږو دترشحاتو تحریکیت .مرطوب کول.

49 س: Nebulization تعریف کړي ؟

49 ج: دشهیقي هواپه خاطر د درملو او رطوبت اضافه کول عبارت له نیبولایزیشن څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

50 س: سکشن کول څه شي دي ؟

50 ج: سکشن کول داسي يو تخنيک دي چي ددي په مرسته موږ کولای شو دهوايي لاري څخه افرازات راوباسو اوتنفسي لاره پاکه کړو.

51 س: لومړي مرستي تعريف کړي ؟

51 ج: لومړي مرستي عبارت دي دبيړنيوهمکاريو اوعاجلو اقداماتو څخه چی دټپيانو ،صدمه ليدونکو او هغوکسانو سره چي په ناڅاپه ډول ناروغه شوي وي سرته رسيږي مخکي له دي چي کوم روغتيايي کلينيک ته ورسيږي.

52 س: لومړي مرستي څو اهداف لري ؟

52 ج: پنځه اهداف لري .اول .دژوند ساتل .دموجوده حالت دپرمختک مخنيوي .دبی هوشي په مقابل کي دناروغ محافظه کول .درملنه .دحادثه ليدلي انتقال روغتون ته .

53 س: ترياج Triage تعريف کړي ؟

53 ج: عبارت له يوي عملی څخه دی چي ددي په اساس حادثه ليدلي ناروغان او ټپيان نظر په دي چي کوم يوزيات زخمي اوياناروغ دي اوضرورت عاجلی مرستي او انتقال ته لري تصنيف بندي شوي دي.

54 س: High priority ياهغه ناروغان چي ترټولو مخکي مرستي ته اړتيالري کوم اعراض لري ؟

54 ج: هغه ناروغان چي دا نهه اعراض ولري لومړی مرستي ته اړتيالري. اول .دتنفسی لاري بندوالی .دوهم .شديده وينه بهيدنه .دريم . شديدقحفی ترضيض .څلورم .دصدر خلاص جروحات .پنځم .دبطن خلاص جروحات .شپږم .شاک .اووم .هغه سوځيدنه چي تنفسي سيستم يي مصاب کړي وي .اتم .دشعور ضايع کيدل .نهم .تسممات .

55 س: second priority يا دوهم درجه ناروغان کوم دي ؟

55 ج: شديده سوځيدنه .دستون فقرات جروحات .په متوسطه اندازه وينه بهيدنه .قحفی ترضيض چي مريض خپل هوش دلاسه ورکړي وي..متعدد ترضيضات .

56 س: Lowest priority يا دريمه درجه ناروغان کوم دي ؟

56 ج: خفيفه وينه بهيدنه .کوچني خفيف کسرونه .هغه ترضيضات اوجروحات چی شديد وي.

57 س: شاک Shock تعريف کړي ؟

57 ج: په عمومي ډول شاک د دوراني سيستم دانحطاطي حالت څخه عبارت دي.

58 س: دشاک اسباب څه دي وئی ليکئ ؟

58 ج: کله چي زړه ونشي کړاي دوراني سيستم ته وينه پمپ کړي چي عمومي علت يي د زړه حمله ده چي شاک رامنځته کوي.

59 س: کوم عوامل دشاک په رامنځته کيدو کي رول لري ؟

59 ج: شديده وينه بهيدنه .اسهالات کانګو اوسوځيدني له امله دمايعاتو ضايع کيدل .زخمونه .د درملو ګازاتو اوکيمياوي موادو په مقابل کي حساسيت .انتانات اوشديد درد .دحشراتو دچيچلوپه مقابل کي حساسيت.

60 س: دزهری مارا نو نښي کومي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

60 ج: دمار دسترګو اوپوزي ترمنځ ژور والي .بيضوي سترګي .مثلثي سر .په لکی باندي دځانګړو خطونودکتارونو شتوالی .په علوی فک باندي د دووخطرناکو غاښونو موجوديت.

60 س: دبي زهرو مارانو نښې کومي دي ؟

60 ج: په لکی باندي دتکو موجوديت .ګردی سترګي .بيضوي سر .دسترګو اوپوزي ترمنځ ژور والي موجود نه وي.

61 س: مار څو ډوله اغيزي ښکاره کوي ؟

61 ج: دوه ډوله اغيزي ښکاره کوي . اول . موضوعی لکه دغاښونو نښې . دوهم . سيستميکي اغيزي. دفشارټيټوالي . hemolysis . coagalopathies ډېرن کيدو تشوشات . petechial اونذف .ريوي اذيما . neuro toxicity عصبي زهري کيدل.

62 س: زخم يا wound تعريف کړي ؟

62 ج: زخم دپوستکي دمخاطي غشاء او انساجو دغوڅيدوڅخه عبارت دي.

63 س: زخمونه يا ټپونه څو ډولونه لري ؟

63 ج: اووه ډوله زخمونه موجودی. غوڅ شوي زخمونه .نامنظم زخمونه .ګريدلی زخمونه .زبيدلي زخمونه .سوري شوي زخمونه .دټوپک دمرمی زخم .په سرکي زخمونه.

64 س: وينه بهيدنه يا Bleeding تعريف کړي ؟

64 ج: نذف يا Hemorrhage د دوران څخه دويني خاريجيدلوته ويل کيږي چي دستونزو اوزيان اندازه يي دپيښبوپه شدت پوري اړه لري.

65 س: يوکاهل شخص دڅومره ويني دضايع کيدو په اثر شاک ته ځي ؟

65 ج: يوکاهل شخص چي 25% وينه ضايع کړي شاک ته ځي.

66 س: خارجي وينه بهيدنه دڅه شي په اساس طبقه بندي کيږي ؟

66 ج: دشريان ، وريد ، اوشعريه او عيو شرياني وينه بهيدنه ډيره خطرناکه ده.

67 س: دخارجی وينی بهيدنی لپاره لومړنی مرستي کومي دي ؟

67 ج: دويني بهيدنی کنترول .دشاک په وړاندي دناروغ وقايه .دانتاناتو مخنيوي .دناروغ انتقال روغتون ته.

68 س: داخلي وينه بهيدنه تعريف کړی ؟

68 ج: هغه وينی بهيدني ته ويل کيږي چي دبدن دانساجو په منځ اودبدن اجوافوکي جاري شي .داخلی وينه بهيدنه دجرحو کسرونو اونافذه زخمونو له کبله وي .دمعدي دقرحي څخه وينه بهيدنه .دخولي .غوږ.پوزي .مقعد.احليل اوهمداشان د Vagina څخه دمياشتنی عادت پرته دويني بهيدنه ده.

69 س: داخلي وينه بهيدنه دکومو علايمو په واسطه تشخيص کيداي شي ؟

69 ج: الوتی رنګ ، يخ اومرطوب پوستکی ،سريع اوضعيف نبض ،درد ، تنده ،ګنګسيت ، بي قراري اونا ارامي ، بي هوشي.

70 س: بي هوشي تعريف کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

70 ج: بي هوشي ددماغ په نورمالوفعاليتونو کي دخرابی په اثرمنځته راځي اود داسی يوحالت څخه عبارت دی چي په دي حالت حادثه ليدلی دخپل ماحول څخه هيڅ خبرنه وي.

71س: دلظی هوشي اسباب څه دي ؟

71 ج: دسرزخمونه .ضعفيت .دزړه حمله .شاک .انتانات .دويني داکسيجن کموالی .ميرگی .په دماغ کي وينه بهيدنه.

72س: ډوبيدنه ياDrowningتعريف کړي ؟

72 ج: مرگ د اوبود ډوبيدو په حالت کي په نورمال ډول سږو ته دهوا نه رسيدو له کبله منځ ته راځي.

73 س: سوځيدنه يا Burn تعريف کړي ؟

73 ج: جگه تودوخه .مضره وړانگي .تخريش کوونکي گازاتو مستقيم تماس دپوستکي اومخاطي غشاء سره دنوموړو اعضاو دبيلابيلو درجو تخريباتوسبب کيږي چي دسوځيدو په نوم يادېږي.

74 س: لومړی درجه سوځيدني تعريف کړي ؟

74 ج: دغه درجه سوځيدني دلمر دشعاع گرمو مايعاتو اوگرموشيانو دتماس په واسطه رامنځته کيږي دپوستکي دسطحي دسوځيدو سبب کيږي.

75 س: دويمه .دريمه .اوڅلورمه درجه سوځيدني وليکئ ؟

75 ج: دويمه درجه سوځيدني .دجوش مايعاتو په واسطه رامنځته کيږي. تناکي اوپرسوب لري. .دريمه درجه .سوځيدني داور دلمبو ، په گرمو اوجوش اوبو کي غورځيدل ، دکاليو اور اخستل او دبريښناپه واسطه رامنځته کيږي. څلورمه درجه سوځيدني په اور کي دلويدلو اودشديدی تودوخي سره د دوام داره تماس په سبب رامنځته کيږي.

76 س: دسوځيدني لپاره لومړنی مرستي څه دي ؟

76 ج: دسوځيدو متوقف کول .د درد او پرسوب مرفوع کول .دانتاناتو مخنيوی .دسوځيدلي ساحي دځمکي سره دتماسه ژغورل . سوځيدلی ساحه د شلو دقيقولپاره په يخو اوبوپريمنځل د درد اوسوزش په خاطر.

77 س: ضعفيت تعريف کړي ؟

77 ج: ضعفيت چي syncope هم ورته وايي دهوش په مختصر ډول له لاسه تلل چي دماغ ته دويني جريان دموقت کميدو په اثرمنځته راځي اودشاک خلاف نبض ډير ورو وي خوژر زياتيږي اوډير ژرنورمال حالت ته راگرځي.

78 س: تشنجات Seizurs/epilepsy تعريف کړي ؟

78 ج: جټکي يا تشنجات دبدن دزياتو عضلاتو دغير ارادي تقلصاتو په اثرتشکيل کيږي اوددماغ داليکترونيکی جريان دخرابيدو په علت منځته راځي.

79 س: دتشنجاتو اسباب څه دي ؟

79 ج: دسرجروحات .د دماغ تخريب کونکي امراض .دماغ ته داکسيجن کمبود .مسموم کيدل.

80 س: دهډوکو په ماتيدني اودمفصلونويي ځايه کيدلوکي څوموضوعات مطالعه کيږي ؟

80 ج: څلورموضوعات مطالعه کيږي .کسرياFroctuer .خلع ياDislocation .تاو خوړل يا sprain . په يوه ناحيه فشار راتلل ياstrain
.

(c) ketabton.com: The Digital Library

81 س: کسر پرخوډوله دی ؟

81 ج: کسر پردوه ډوله دی .خلاص کسر یاopen fracture هغه کسردی چي دکسر سره زخم او وینه بهیدنه موجود وي .دوهم تړلي کسرونه یا Close fracture هغه کسردی چي هډوکي مات شوي وي او وینه بهیدنه موجود نه وي.

82 س: splint یامیزابه څه شي ده ؟

82 ج: میزابه دهغی وسیلي څخه عبارت ده چي دمات شوي هډوکي دبی حرکته کولو لپاره ورڅخه کار اخستل کیږي.

83 س: خلع یا Dislocation څه شي دی ؟

83 ج: دهډوکو دبندختل یعنی کله چي مفصل خپل داناټومیک موقیعت څخه بي ځایه شي. دغه حالت دخلعي په نوم یادیږي.

84 س: Sprain یا تاو خوړل څه شی دی ؟

84 ج: داحالت هغه وخت پیداکیږي چي مفصلونه دخپل اندازي څخه زیات غیرنورمال حرکت وکړي اویا دیونهایت څخه ورباندي فشار راسي.

85 س: دSprain یا تاو خوړلو علایم او تداوي لنډه تشرح کړي ؟

85 ج: علایم یی نیمه پړسوب .حساسیت .دحرکت په وخت کي درد .دهمهغی ناحی تغیر رنګ .تداوي یي په اولو 24 ساعتونوکي یخ ټکور ورکوو او وروسته تود ټکور.

86 س: Strain یافشار واریدل څه شي دي ؟

86 ج: دهغه حالت څخه عبارت دی چي دزیاتي قوي په اثر عضلی الیاف ترفشارلاندي راسي اودعضلاتو دزیاتو اوشدید کش کیدوپه وجه صدمی اوڅیری کیدل منځته راځي چي دسټراین په نوم یادیږي.

87 س: دفشار واریدیدو علایم اوتداوي ولیکئ ؟

87 ج: علایم یي .حاد درد .دملاپه کښتنی برخه کي درد .پړسوب .دحرکت په وخت کي د درد زیاتیدل .تداوي ګرم ټکور .اواستراحت پرهواره اوکلکه سطحه.

88 س: خوب تعریف کړي ؟

88 ج : خوب یو داسي حالت دی چي دانسان درک دچاپیریال سره کمیږي.

89 س: کوم عوامل پرخوب اغیزه کوي ؟

89 ج: د ارامتیا اندازه .ویره .چاپیریال .دژوند طریقه .خوراک .درمل .رسم رواج.

90 س: دخوب دعامو بی نظمیو دیونومونه واخلئ ؟

90 ج: Hypersomnia یاکم خوب کول . Sleep apnea چي دیوشخص تنفس دلسو ثانیولپاره بند شي . Sleep deprivation.دخوب دکیفیت اواندازي دتشرح لپاره کارول کیږي.. parasomni په خوب کی خبري کول .ګرځیدل .دبسترلمدول دغاښونو چیچل.

91 س: د ادرارو احتباس تعریف کړي ؟

91 ج: دهغه حالت څخه عبارت دی چي اد رار په مثانه کي جمع کیږي اوناروغ نشي کولای چي ادرار خارج کړي. عوامل یی: دځینودوا ګانو استعمال .روحی اورواني فشار .جراحي عملیات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

92 س: قبضیت یا constipation تعریف کړي ؟

92 ج: قبضیت عبارت دی دکلکو ، وچو ، اوکمو غایطه موادو دخارجولوڅخه عبارت چی دتغوت د(دفع ) دځنډ په پایله کي منځته راځي.

93 س: دقبضیت اسباب څه دي ؟

93 ج: نامنظم غدايي رژیم .دغایطه موادو په دفع کي غیرمنظم عادت .رواني فشار .لږ مایعات .عمر اوسن .تمرین نه کول .اوځینی درمل .

94 س: دنورمال غایطه موادو مشخصات کوم دي ؟

94 ج: رنګ .شکل .غلظت .مقدار .بوی .ترکیبات .

95 س: اسهال یا diarrhea تعریف کړي ؟

95 ج: کله چی غایطه مواد نظر قوام ته نرم او اوبلن شي او تعداد د دفعاتويي په 24 ساعته کي د دري ځلي څخه زیات شي اسهال بلل کیږي.

96 س: داسهال اسباب کوم دي ؟

96 ج: رواني تشوشات .دغذا په مقابل کي حساسیت .دغوږ ناروغی .دمعدي معیایی طرق تخریش .دبعضی دواګانو استعمال .جراحی .

97 س: نبخ یا flatulence تعریف کړي ؟

97 ج: نفخ یاباد flatulence هغه حالت ته ویل کیږي چی یوشمیر ګازات دمعدي معیایی طرق له لاري ازادیږي .عوامل يی بکتریاوی .بلع شوي هوا .جراحی .درمل .انستیزي اومخدره مواد .

98 س: اسپسي تعریف کړي ؟

98 ج: دټولو هغوشرایطو څخه عبارت دی چی په هغه کي ټول مایکرو ارګانیزمونه که سپور هم ولري له منځه ځي. په عملیات خانه . دولادت اطاق اودسي نور.

99 س: دجراحی اسپسي اصول او پروسیجر تعریف کړي ؟

99 ج: نه دوله اصول لري .یویي لکه مقعم شیان باید دمقعم شیانوسره په تماس کي شي.

100 س: دعملیات څخه دمخه کوم معاینات ترسره کیږي ؟

100ج: CBC یعني دویني ټول معاینات .ECG کلوکوز .خونریزي .علقه .BUN چسټ اکسري chest x-rey.

101 س: دسکرب نرس اوسرکولر نرس دنده وښاياست ؟

101 ج: سکرب نرس په عملیات کی برخه اخلي اودمقعم وسایلو تیارول .سرکولر نرس اطاق اماده کوي دوسایلوحفاظت .دکاري وسایلو چک کول.

102 س: دوراني اختلاطات څه شي دي ؟

102ج:Thrombo embolism یو وریدي التهاب دی چی دوینی دعلقي په واسطه رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

103 س: ترمبوز څه شي دی ؟

103 ج: په دوراني سيستم کي دوينی يوه علقه ده .

104 س: امبولي څه شي ده ؟

104 ج: په دوراني سيستم کي دهوا يوه علقه ده چی دحرکت په حال کي وي. اوهمدارنګه تنفسي عدم کفايه .قلبي عدم کفايه .انتان . وينه بهيدنه .اوهايپوترميا هم د دورانی سيستم اختلاطات دي .

105 س: تندرستي تعريف کړي ؟

105ج: تندرستي هغه حالت دی چی ديوشخص دژوند کيفيت لوړوي ارتقاء ورکوي.

106س: دروحی فشار اسباب وليکئ ؟

106ج: تهديد .ويره .مړينه .روغتيا .جنايت .سوء استفاده .دکورنی بدلون .نوی محل .پيسي .دمحيط تغير.

107 س: مرګ يا مړينه کوم وخت رامنځته کيږي ؟

107 ج: مړينه هغه وخت رامنځته کيږي چي دوراني سيستم .تنفسي سيستم .او دماغي سيستم توقف وکړي.

108 س: ضايعه تعريف کړي ؟

108 ج: ضايعه دهغو شرايطوڅخه عبارت ده چي په هغه کي يوشی تغيروکړي يا بيخي له منځه لاړ شي اودګټي اخستني ووزي .

109 س: حزن تعريف کړي ؟

109 ج: ديوسلسه شديدو فزيکي اورواني ځوابونو څخه عبارت دی چي ديوي ضايعي په تعقيب رامنځته کيږي.

110 س: دضايعی اوحزن ترمنځ کومه رابطه شتون لري ؟

110ج: ضايعه دناامیدی او اضطراب يواحساس دی اوحزن دستونزي دحل دميکانيزم څخه عبارت دي.

تاريخ ۱۳۹۸/۵/۳ هجری شمسی کال

ستاسي د دوعاپه هيله

ســـــمــــــيع اللـــــه مـــــــــتقي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**